



Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributio
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers

(c) ketabton.com: The Digital Library

G.H.S.S. Kabal

L.No.15

15

# جہان زیبی

## مشاعرہ

۱۹۵۴ء

۱۲/دسمبر

نام ________ تمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگورہ سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

۴۸۶

# جهان زیبی

# مُشاعِره

زیرِ سرپرستی سیفُ الملوک صاحب

صدیقی ریاستِ سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date:
KABAL Swat

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی ملت حکمران سوات



# تمهید کتاب

چونکه سنګکال د حضور اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبدالحق جهان زیب خان
صاحب حکمران ریاست سوات دام اقباله، د
جشن سالګیری سنه ۱۹۵۴ع د ۱۲ر دسمبر
پحقله جمونږ د خوږ وطن ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقی یو څلور طرحے د خپل فکر
د نتائجو نه منتخب کړے په هغوی باندې ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهذا دا مونږ د یو مجموعے په طور په خدمت د حلقهٔ احباب
او د ناظرینو د جشن کښې پیش کوو:-

(گر قبول افتد زهی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نظمونو فهرست


| نمبر شمار | نوم د شاعر او د هغه نظم | صفحه | نمبر شمار | نوم د شاعر او د هغه نظم | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهید کتاب | ۲ | ۱۱ | سلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سیف الملوک صاحب صدیقی | ۴ | ۱۲ | شیر صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان فیضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبیب الرحمان حبیب صاحب | ۲۳ | ۱۴ | پیر محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امیر حمید صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشیروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | ایاز صاحب کراچی | ۴۴ | ۱۶ | شیر افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فکری | ۴۷ | ۱۷ | خانی قصاب صاحب | ۱۰۰ |
| ۸ | شیر محمد خان صاحب مینوشی | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | د ناظر سنوی په خدمت کښ | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوی ضیاء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | د عقیدت گلونه | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یو زه یوائے نه یم چه په دے یم خوشحاله

---

راځه تماشه اوکړه هر طرف ته ځماالله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله
راځه تماشه اوکړه د اقبال ختلے نمر دے
مولی په لوئ احسان راکړے دادریم اختر دے
خوشحاله قام په دے چه جهانزیب د دوئ رهبر دے
بل ګوره ځما روره چه نن ۱۲ باره د سمبر دے
هم رو به ترقی دِ دوئ داجشن کال تر کاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله



اوس جوړ د ترقی ځونږ د پاره دِی اسباب
ختلے په عروج د سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو مونږ والی عالیجناب
داټول د ده همت دے ځان خبر کړه د احواله
یو زه نه یم چه په دے یمه خوشحاله
صحت دِ ورله ورکړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو په دے ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے په صدق مونږه ته منظور دے
د قوم د ترقی خدمت دِ نورِ علیٰ نور دے
شهی دِ دوړی شو له بهتر د زرین شاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یمه خوشحاله
وطن دِ باغِ ارم کړه څوک ناشکره د احسان دی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشکره به هغه وی چه په مثل د شیطان دے
اصیل پرے خوشحالیږی په مونږ فضل د سبحان دے
حصه د منافق دلته هم هلته کښی نیران دے
محروم په ژوند کښی نه کړے صدیقی د خپل وصاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

---

طرح

## طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

---

نن باره دسمبر دے پتنگان را غله په شمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے خوشحالی ده په هر لور
هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دی کور په کور
غنچے شنے د خندا نه پړے بلبلے کوی شور
دعا کوی سلطان ته چه یے ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یے شته د بل نه طمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالی ده په چا نشته درد و غم
دعا کوی الله ته د خپل والئ اعظم
ادیب شاعر چه ویاندی کړه قرطاس ته خپل قلم
اوصاف د جهان زیب لا پوره نه وو ذره شه خم
جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د جا لمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے
داهم د خدائ د لوری په مونږ فضل عنایت دے
خندیگو، خوشحالیگو په هر ځائ ځمونږ وقعت دے
غمخوار د هر یو کار بخپله غازئ ملت دے
په تا چه څوک خفه وی رب دی زر ترو نه کړی قمع
طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نه اُو نه کړی دا بد بخته بې کړ دار دے

خلاف د اُولی الامر په تحقیق کښې ګنهګار دے

تعمیر انصاف د سوات په مثل بل په کوم دیار دے

صحت دولت د علم کړه حاصل که ستا بکار دے

حق وایه صدیقی حق ته دِ ټهیک و نسیه سمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

د هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

داسے تجربه مِ په تحقیق کښې د احساسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړی دِ فکر ځان ته نن او د پرون اُو کړی

فرق په دښتیا دِ د وصال او د بیلتون اُو کړی

بل د ذره په سترګو دِ کتنه د ګردون اُو کړی

شکر د الله دِ په دے عهد د مامون اُو کړی



ستره چه ماضی ځمونږ د حال د انعکاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

نشته یو مثال چه به وِی دا دور و دوران د چا

نه به یو منصف، عادل، بیدار وِی حکمران د چا

نه به زیب زینت لکه ځمونږ وی په جهان د چا

داسے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران د چا

لویه تجربه دِ د لقمان او بلیناسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے

بل دِ د صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے

بنګلے کور په کور چه انتظام دِ د تنویر کړے

هر ځائے کښې انصاف دِ د غریب او د امیر کړے

ځکه خَیرُ النَّاسِ وَمَنْ یَنْفَعُ النَّاسَ ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي
خدائیګو که انسان وي دې به فخر ستا په ذات کوي
یا وه قتل خون یا مطالعه د کائینات کوي
ځکه هر یو کس په دې خلوص صدق صفات کوي
هر ځائې اوریدې صدیقي د حق شناسه ده
هر سړي موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

محفوظه خزانه وي چه پلاس کښې د امین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

په صدق چه خدمت کوي مالیار د ګلستان
بلبل ورله راغواړي بل ترې لرې کړي زاغان
زاغ و زغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان
هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران

PUKHTO.NET



ګویا په دغه قوم فضل د رب العلمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

مشهور په تواریخو کښې دې عدل جهانګیر
ترلې د انصاف د باره ده به وه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر
وټیل به ئې فریادي تر راته اوده کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یادیدلې په تحسین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

یو څو خبرې واوره ته د غازي ملت
رښتینې نګهبان دې د خپل ملک او رعیت
بخپله د سپاهي پښان ولاړ وي په خدمت
فریاد د فریادي اوري هر ځائې په هر ساعت
اوصاف ئې نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

دَ ده په برکت باندِ وطن حمُوږ سمبال دے
هر يو ته په خندا دے هر يو کس ته په نيک خيال دے
دَ ده دے نظم نسق ته هر يو سړے ليوال دے
تعميرِ صديقي په دے زمان کښې بے مثال دے
مُمدِ او معاوِن دِ دَ دهٔ رب په هر يو حين شي
دروغ نهٔ دي رښتيا دي په رښتيا که دِ يقين شي

# سيف الملوک صاحب

## صديقي ـ سيدو شريف



# فضل الرحمن فيضان شاعرِ خوشنويس
## رياستِ سوات

### طرح

يو زه يو ازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

رازه ګله رازه چه دِ خبر کړم مه دَ حاله
دا نه چه بيا ځمانه ته ګلِه کوے صباله

نن بارَه دِ سهر ستر ګے وهي حمُوږ پلور
يو ناوے دَ مکيز دا خله شوه حمُوږ په کور
ګلونه دَ عِشرت دَ زړهٔ په باغ کښې شو سمسور
دَ سوات په ګلستان کښې بلبلان ګڼ شو په شور

خوشحاله خوشحالي ده نن دَ هر سړي دَ خياله
يو زه يواځے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library
PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقاص شوم
د عام نه جدا شومه د خاص سره خاص شوم
میدان د تصور ته ورد ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکې لکه غواص شوم
خارج مې کړه لعلونه چه قبول ډک دي له کماله
د شاه د تاجپوشۍ په تاج جوړ مې کړه آلاله

نن جشن د حضور دے که د نوي اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا بښکلې پلوشه ده سرو هې پوره په کال
یا دا چه په هجران پسې مدام راځي وصال
نن جونه د جشن تماشې کړي د دیواله
نوي د نکې غوړانګې سره جوړ کړي د سوشاله
دا زه یو ازے نه یمه په دې بانډ خوشحاله

PUKHTO.NET



د خیال په آئینه کښې در ته ښایم یو تصویر
په هوش شه هسې نه چه شي د خطا په هوا ګیر
د سحر د جادو نه درته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشي د ضمیر نه په ضمیر
**فیضان** خیل تخیل کړو د شاه مینه ترلیواله
الفاظو ئې په زخم د زړه کښېښودو د سماله

---

## طرح

طوطیان په ګلستان کښې په خندا ګیناسته جمع

---

یو د زړه زړه د سیل د پاره تلی وم صحرا ته
ګلشن د خوشحالۍ کښې ګرزیدم مزه هر خواته
یو زړې عجیبه بهار په غوږ کښې اوږې ماته
طوطیان په ګلستان کښې په خندا ګیناسته جمع

دَ سوات په گلستان کښې نن چغېږي بلبلان
محفل ته دَ ادب واړه غونډېږي ادیبان
په یادو دَ سلطان کښې مشغولېږي شاعران
دَ جشن په جوبن کښې بیا او بیا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

دَ باره ۱۲ دسمبر تاریخ بیا یادېږي په هر حال
چه دا سے سالگره یکښې کیږي هر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن دَ هر سړي په خیال
دَ جشن په دے شپه کښې تر صبا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

دَ جشن فریدون او دَ نوروز نه دَ جمشید
څمونږه جشن زیات دے دا څمونږه دے یو عید
آزاده آزادي ده یکښې نشته دَ غم قید



یو ښکلي محفل کښې شاه گل اکیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

یو سیل دے تماشه ده په هر ځای په هر مکان
تاریخ تازه کول دي نن دَ سوات دَ حکمران
دا حکمران راغونډ شولو واړه زاړه ځوانان
دَ دې خوشحالۍ نه په رښتیا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

دَ انجاس نه دَ چوړا پورے اوشو دا سے یاد
په باره ۱۲ دسمبر کښې حاصلېږي څمونږ مراد
فیضانه حکمران دِ څمونږ تل وي زنده باد
نن عام و خاص دَ پاره دُعا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ډیرې ډیرې فوائد دِ رسولي دي جهان وته
لاس دَ دلاسې دِ دے پسر هر یو انسان وته
نښته دے سُلطانه دَ عیان نه څه بیان وته
هره نتیجه دِ دَ حدیث دَ خیر النَاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

خاص دَ هر یو رنځ دارو یې د اسې مسیحا یې ته
چوته مړه ورنه یې خوږ ځانه بخلا یې ته
هُم څوونږ دَ غم دَ شپې دَ پاره یو صبا یې ته
هره فائده ستا څوونږ دَ پاره بے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده



ستا په لوی همت سره دَ سوات وطن آباد شه ښه
علم دِ ازده کړه ورنه جهل نه آزاد شه ښه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښې یاد شه ښه
دا دَ سوات ټول خلک اوس خلاصه دَ افلاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

تا دَ قوم دَ پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا دَ ترقۍ په عروج چوت کړه ریاست واړه
خلک دے لتا نه ټول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی دَ نوے بلے نه لګیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

جشن دَ دے باره دسمبر دِ مبارک وی ستا
ډیره خوشحالي دِ اے سُلطانه یو په لک وی ستا
ستورے دَ اقبال دِ تل روښانه په فلک وی ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دُعاء ځمونږ ده ستا په حق کښې بې وسواسه
هرُ سړي موند لے لويه برخه ستا د لاسه ده

تر دِ زنده باد ئې حکومت دِ ستا مدام وِی تل
سوڑے د رحمت دِ ستا پمونږ علی الدوام وی تل
هم دِ د **فیضان** حقیر پښتا دعا سلام وی تل
دا ښادی شوه ځمونږ د انیس شو انجاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

# طرح

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

تور دی که سره شنه دی هم که زیړ دی او که سپین شی
دا که په یو رنګ شی نو بیا جوړ به تر آئین شی



راشه دوه رنګی پرېږده په یو رنګ سره رنګ شه
نه کیږې عاشق نو د آشنا د در ملنګ شه
زړ شه د باطل د پاره غشے د خدنګ شه
دوست به دِ خوشحاله شی دشمن به دِ غمګین شی
داسے کارنامے به دِ بیا لوړے تر علّیین شی

Govt. High Secondary School
Acc No—
Date
KABAL Swat

ټول د اِتحاد په رسی اُو تړه محکم بېته
زهر د تفریق د مینځ نه واړه کړه مدغم ته
زړه دِ په چاره د شاه د مینے کړه قلم ته
څوک چه داسے کار کړی په رښتیا سره نازنین شی
داخو دروغ نه دی په رښتیا که دِ یقین شی
راشه دروازه د یقین او وهه په زوره
ښل یقین دِ خاص کړه بیا هله لمتوه نوره
ولے نه دیده او دانسته ګوځے شمکوره



PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو امين شي
تيږ نه وي بيا خلقو ته ډير څوک لکه ګبين شي

ته په صداقت د جهانزيب د در غلام شه
ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه
څو به يې بدنام ته د وفا په نوم نيکنام شه
مخ په صدق وينځه چه روښانه د جبين شي
هله به بيا رونړه درته د يار د مخ آئين شي

خيال کړمه مجبوره زه په دے معما کا نو
دا تشے قصے نه دي که داورئ هوښيارانو
دا يو معمه د مطلب ده که ده يارانو
وائي **فيضان** تاسو ته که پوهه پرے دو رېين شي
کوزه بايه بره، بره کوزه د خودبين شي

فيضان سوات عفي عنه، سيدو شريف

PUKHTO.NET



## ښاغلے حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

### طرح

يو زه يوازے نه يم په دے باندِ خوشحاله

نن بارهٔ د دسمبر دے هر سړے کړي چې له خياله
بو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دے هغه مياشت د دسمبر
ختلے چه پرے تخت وه والی صاحب بهادر
هر چا ته هر سړے راځي خوشحاله په نظر
دا زيا ته خوشحالي ده پرے رسيږي د بل کاله
يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له دَ والی صاحب والی
یو زه یواځے نه یم چه پڑے کړمه خوشحالی

دَ سیال سره چه سیال نږدِی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره یږدے ورځ وینم بد حاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دا ورځ دَ خوشحالی ده نن دَ هر یو مسلمان
هر ځائے کښ خوشحالی ده په هیچا نشته خفګان

تاریخ دَ تاجپوشئ چه دے ځمونږ دَ حکمران
وه چه زبون حال هغه نه دے زبون حاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دا ورځ دَ خوشحالئ دَ اهلِ سوات دَ اقبال
دَ باره [12] دسمبر ده مبارک دَ دے کال

ده داسے خوشحالی لکه دَ عیده په هلال



دا باره دسمبر یکښ تاریخ وینم نیکفاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

آمان دَ انقلاب نه ځمونږ دِ حکمران وی
دنیا کښ تر څو پورے چه دا زمکه دا آسمان وِی

هم داسے دِ په قام باندِ مشفق ځمونږ سلطان وِی
دُعا دَ حبیب دا ده اے خالقه لایزاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح

## طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع
نن باره دسمبر دے شاه ګدا کیناسته جمع

دا باره دسمبر یو لوی اختر دے دَ اولس

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته ګورم چه کوی خندا هوس
دَ ډیرے خوشحالئ نه په هر ځائ کښ دے مجلس
حسد او کینه لاړه نن اعدا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

بے حده خوشحالی ده ریاست کښ کور په کور
چه ورځ دَ تاجپوشئ ده دَ والئ صاحب غمخور
په زیاته خوشحالئ له کښته باخیده رنځور
آغوستے خے جامے خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

ټول خلق راغونډ دَ خوشحالئ شو په میدان
هر یو کړی خوشحالی په تاجپوشئ دَ حکمران
په هر کلی دَ سوات کښ په هر ځائ په هر مکان
محفل دَ خوشحالئ کښ یار آشنا کیناسته جمع

PUKHTO.NET



امیر دے که فقیر دے کړے هر یو انتظام
عیشونه دی جلسے دی ، دُعا ګانے کوی قام
څوک چه بے آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان دَ دے سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

ښکاریګی هر طرف ته دروازے ښی مزه دارے
حیران ښی په دے ورځ چه مسافر درومی پلارے
نو روانئ مسافر خنګه اختر شه په تلوارے
حبیب وائی کاروان تر په سودا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

## طرح

هر سړی موند لے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

حضور ته ما ایستلے بادشاهي ستا سو قیاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

مونده لویه برخه هر یو کس لهٔ ستا سلطانه
احسان مالي جاني کوے د هره مسلمانه
بیا خاصکر په عاجزو بے حده مهربانه
هم دېر د احسانونه هم جزا د سمه لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

په مثل د حاتم د حکمرانه سخاوت دے
لایق د دېر تحسین د آفرین د حکومت دے
د عدل د انصاف د په کلي جهان شهرت دے
ستا فیصله هره د میزان او د قسطاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

هره فیصله کړے په انصاف عدل پسندیے



پر دے نوم د انصاف په تمامي جهان سر کندیے
موصوف په دے اوصافو په چترال په دېر د ربندیے
تعریف دِ دنیا ټوله کړي د لاندِ کم لیاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

حاکم دِ دوی حاکم چه ور بخښي عدل انصاف وي
په صدق چه له بهاو د رشوت نه ځنې صاف وي
مجرم چه جرم اوکړي په اقرار باندِ معاف وي
له دے نه چه خلاف شي بیا توبه دِ دخناسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

خاوند دِ خه نصیب کړه زیاتِ له دے نه ښه اقبال
چه کوځي مظلومان دِ په انصاف عدل خوشحال
محصون دِ له گردش د انقلابه او سه آل
دعا د مظلومانو تیره سخته د الماسه ده

ن باره د سبر دِ تا جپوشی ده حکم انه
دا نیک فال تاریخ دے هر یو کس و ینم شا دانه
دا ورځ له اختره کمه نه ده مهربانه
هره خوشحالئ د کال د هر یوے د پاسه ده
هر سری موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

دا حبیب له صدقه خیل مالک ته بیا دے سوال کنی دے
تل د تضاعف د سالگیرئ دِ کال په کال کنی دے
بل د نیکنامئ غرض یئ هر زمان په خیال کنی دے
دا لار د نجات هر مسلمان له بے وسوسه ده
هر سری موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی



سوات ته چه خوک راشی پوره رحمت د رب متین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

لاره چه یو ظالم او بل مظلوم شی عدالت ته
دیر په خوشحالئ مظلوم راضی مظلوم غمگین شی
زغلی عدالت ته مظلومان له هر طرف نه
سوال د دوئ قبلیږی دیر خفه ظالم بیدین شی

په سوات کنی مساوات د معتبر او د غریب دے
حق رسی یئ کیږی که خوک خان او یا مسکین شی
زیات له مورو پلاره مهربانه شا به قام دے
بیا په کومه وجه رعیت به تر غمگین شی
ن په انتظام باندِ خوشحاله رعیت دے
نه غواړی هیڅکله چه بدل دِ دا آئین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت په هغه څاوی چه مطيع د حکمران وی
د شاه نه چه خلاف شی هغه رور د شياطين شی

د غلو شو کمار و نشته مسافر سره خطر
نه فکر لری غم که په صحرا سر په بالين شی

حبيب وائی نصيب دی د والی عمر د نوح شی
د قام ده دا دعا د فرښتو دی پرے آمين شی

---

## حبيب الرحمن حبيب

گالوچ - سوات

PUKHTO.NET



## ښاغلے امير حيدر صاحب بونيری

## رياست سوات

---

### طرح

يو زه يوازے نه يمه په دے بانده خوشحاله

---

يو زه يوازے نه يمه په دے بانده خوشحاله
دا باره دسمبر دے خدائ محفوظ کړی د زاوا له

يو زه يوازے نه يمه خوشحاله ټول جهان دے
د سوات په ښکلی زمکه جهان زيب چه حکمران دے

مرغی وائی سندرے چه دا خنک امن آمان دے
مولی دی په ښادئ لوی دا کال تر بله کاله

يو زه يوازے نه يمه په دے بانده خوشحاله
مولی دی په ښادئ سره لوی د والی ذات

ذات د ده خوشحاله وی خوشحاله دی سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل په انصاف کښې شاه آغستی دی صفات

قدم نقش قدم ئې هر یو یک دے د کماله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

قدم نقشِ قدم ئې زَوِ یه ده د اسلام

اِسلام هغه اسلام وِی چه ئې درست خیرِی انجام

انجام د نیک خویونو په والی کښې دِی تمام

د مُلک او د ملت خیر نه ده ترے محاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

د مُلک او د ملت په محبت کښې وی غرقاب

د خوارو غریبانو په خدمت کښې وی غرقاب

قانون ئې شریعت دے شریعت کښې وی غرقاب

آوازے ئې د توحید دے او ریکے د بلاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

PUKHTO.NET



آوازے ئې د توحید دے او ریکے برابر

خدای رسول ته درست وی هغه او کړی مقرر

یو ورزے د باغچے بلورے تله امیر حیدر

بلبل ته گل ویلو چه به ته راځے صباله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کیناسته جمع

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په گلستان کښې د گلونو ننداره کړی

دک خاندی خوشحالیگی څوک د خپل جوش نعری کړی

څوک د گلو اخلی پریے محو کے دواړه سرے کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان به تیختړلاړه په بیدیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې چه صبا شي خوشحالي کړي
چه باد د صبا راشي پاڼې خاندي قوالي کړي
نعرې د زندګۍ باد کړي زندباد چه د والي کړي
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې مصلحت کوي د عیش
هر یو په خپله ژبه اشارت کوي د عیش
دنیا کښې په دنیا خلق صفت کوي د عیش
ټول قوم مخامخ د رهنما کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي خندل
محفل کښې چه خندا کوي هم دا کوي کستل



...ړه د والي به مساوي نه وي څوک بل
جلوس کښې د بنیادي ټوټې دا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

...فل کښې خوا په خوا آشنا کوي مذکور
...ړه د خوشحالۍ نه معلومیږي مخ ضرور
...باره دسمبر د سالګیرۍ کیږي دستور
میدان کښې مجلسیان په رضا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

...فل کښې خوا په خوا دي یو بل نه تپوسونه
...حق کښې د والي غواړي دعا ټول اولسونه
مخلوق کوي د خپل توانه خیراتونه مجلسونه
یاران د امیرخیل ډلاس په دعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

## طرح ۳

هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده
دا خبره هم هر چا وښکلې دَ خپل قیاسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه په خدمت کښې ده
هر یوه صیقه دَ شرافت په صداقت کښې ده
ما هم اورېدلی دا وینا دَ عوام الناس ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده
ما هم اورېدلی چه دَ قوم ځان خادم کنړي
ته خدمت دَ قوم کړې، نه چه ځان حاکم کنړي
تلې دا فقره دَ فکر پوره دَ وسواسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET



دا فقره دَ فکر پوره ستا دَ وصف ده
نده باد نعره هم هر یو لوره ستا دَ وصف ده
عدل کړې انصاف کوې دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده
عدل کړې انصاف کوې نه چه ته ظلمونه شته
نه په ترقۍ شه دا سې نور قومونه شته
ښکل په اخبار اتو کښې لیک دَ حق شناسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده
رست په اخبار اتو کښې لیک جهان زیبا یې ته
کله مهربانه په عاجز و غربا یې ته
تیزه رسائی دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا دَ لاسه ده
تیزه رسائی دَ عقل ستا په سیاست کښې ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک دِ چغلخور شي دَ چغل وینا نخاسته ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
ورک دِ چغلخور شي دَ چغل وینا اثر نه کړي
بل طرف ته کوچ به هیچرے امیر حیدر نه کړي
دامِ عریضه به دسپر دَ التماس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

## طرح ۴

دروغ نه دِي رشتیا دي به رشتیا کړ دِ یقین شي

دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا کړ دِ یقین شي
لال نشي پټیدلے که به ایرو زیر دِ زمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا یقین بکار دے
یقین دَ مسلمان دَ پاره ښه ښکلے کردار دے



... به ناجاتو که چه بدل کوي گنهګار دے
رشتیا به خنګه پټ شي یو سړے که نکته چین شي
دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا کړ دِ یقین شي
رشتیا چه پښتوي دا پښتول ګناه عظیم دے
سوات والې تر خپل اُستاد دَ خو کړے تعلیم دے
... نه دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سلیم دے
همدا سے نور قومو توله امام دِ جور امین شي
دروغ نه دي رشتیا دي به رشتیا کړ دِ یقین شي
همدا سے نور قومو توله دِ شي امام ښکاره
غیرت به شجاعت کښې دَ آغستے نام ښکاره
رشتیا کښې کوټ به کوټ باندِ چه شي اسلام ښکاره
بیدار شي هغه قوم چه باشلے نیک حسین شي
دروغ نه دي رشتیا دِي به رشتیا کړ دِ یقین شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېدار شي هغه قوم چه نېک خويه يې حکمران وي
خدمت چه د مخلوق کوي په ده رب مهربان وي
هغه زمکه او غرونه کانړي لوټي گلستان وي
په چا باندې نظر چه د خپل رب العلمين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که د يقين شي

په چا باندې نظر چه وي د رب هغه عادل وي
هغه ته مرتبې د خو اخلاقو هم حاصل وي
د سوات والي پښتانه خداى خبر چه څوک عاقل وي
په باره د سمبر کښې ځما څها به مضامين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که د يقين شي

په باره د سمبر کښې کور په کور باندې ښادۍ دي
د شمن دې يې ذليل شي چه په زړه يې ناسور وي
آزاد خو د غرزوند دي بل به څه د آزادۍ وي



په غير د شريعت نه که قايم بل يو آئين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که د يقين شي

---

په غير د شريعت نه رياست کښې دستور نشته
قصور دې د نادانو د دا ناوه قصور نشته
وينا کوم د ځانه ما ته دې کښې ضرور نشته
شاعر امير حيدر د مولى نه کړي چه غمگين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که د يقين شي

---

مه

امير حيدر بونيري

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلي ایاز صاحب د کراچۍ نه

### طرح ۱

یو زه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

---

پرون "د پښتنو" "نن" په خندا را غلو صبا له
زیرې د ښادۍ ګوندې هډهډ را اوړو سبا له
غر د سلیمان دنګه غاړې ولاړ ه صدا له
پیغله د آیلم بیا جوړه شوې ده ګڼا اله
بخت او تخت او تاج د غلي توب ځنې زاریږي
که ناز د پښتونخوا باندې نازو نه دی نازیږي
تقدیر په ګڼا سره او تدبیر ولاړ پرکاله
فطرت په سره منګولو کښې حنا اوړه حیاله



نخترې په نوراني غېږ کښې ضیا را اوړه ضیا له
نشې له مستیو ډکې د صبا را اوړې صهبا له
اللہ یار او تدبیر دواړه له مړاڼې قربانیږي
ښادۍ له خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیږي
فردوس د پښتنو د غوړیکې پښتونخوا له
رضوان زیړې وړکړې هسې رنګې د دنیا له
وږونه د ښادۍ د کور لړې ن هر چا له
حیرت هم اړادو د مشیت ته د دوجاله
غلي پښتون آدم ته خلافت سپارلې کیږي
سوادونه د هیواد چه د ښادۍ په تال زنګیږي
خیبر چه چا خبر کړه د دې هسې رنګ احواله
"وې بوی یم په "د بوی یم" وجو بیارا غلو ځاله
کمال د پښتنو وو زیږیدلې ونکې له زواله
کمال هسې کمال چه تکمیل مومي له کماله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی چه تا ته کورم ننګیالی م را یاد یږی
جهان زیبه! تا ته کورم ابدالی م را یادیږی

مبارک دِ شه دا جشن اے په سیالو کښې بے سیاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

پښتو په ګډا شوه چه یې واک در اغلو تاله
ښادی به وے نه کړی چه پخپله شوه واکواله

وارث پښتانه په هر وطن کښې خوشحالیږی
نو بت چه نن د سوات په سر دروکښې ستا غږیږی

---

# ایاز کراچی



# ښاغلے عبدالمالک صاحب فکری
## تنډوډاګ - سوات

---

## طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

مرحبا فیض موند لے دے بیل بیل ستا د اقباله
مطمئن، خورسنده، ستا په دَورِ باکماله

سوات د کډ بونیر دے دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوی هر څوک د ذوالجلاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

سو د رحمت یې قام له کورے لارے صافے
ه ظلم دِ وړک کړه فرشته چه د انصافے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم چه اخلې مکمل وِی، نه کړے لا
وړاندِ ے هر سوی استا په اقبال شه دَ خپل سیاله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

لوږه، که جوره دَه، که خټ دے که کمرد
کلے دے که ښهر دے که سمه دَه که غرد
هر ځائ غوړیدلے ستا دَ عدل ښه څادر
نشته منزری هغه بیزو وَ ترلیواله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

ژے وِی، که اُو ړے یکښې هرڅوک خې مزے کوِی
یره ترهه نشته خپلے خپلے مشغلے کوِی
اَمن او آمان دَ ے فکرئ نه څوک ګلے کوِی
قام دَ ستا دَ علم په دولت شه مالامال
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله



## طرح ۲۰

## طوطیان په ګلستان کښې په خند اکیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې په خند اکیناسته جمع
رت چه دَ خزان وریکښې اُو کړه قلع قمع
...ن دَ بهار په ښه موسم شهٔ ګلستان
...دَ حده زیات شهٔ غوټو اُو سپړ دلو ځان
...ګل شهٔ په خند اچه پسرلی اُو کړو اعلان
بُلبل هم نغمه زن شه دَ وصال دَ ګل په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خند اکیناسته جمع

...ان دَ باغ لاړهٔ، مهر با نه شته خاوند
...یاد ورک شهٔ ظالم نغے غږیږی خوند په خوند
...ستی کوِی خوشحالهٔ دی پرند چرند په ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوی دِی که واړه دی هرچا بیا موند له نفع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر د
دا ورځ د سعادت ده ښکلے دور بختور د
وطن ټول چراغان دے ځکه باره دسمبر د
رڼا د قمقمو ده هرځائ بله ده هم شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضی دی د غازی نه په ښه شان سره قومو
په دور جهان زیب باندِ او باسی تل شکرو
فکری یوازے نه هر یو منصف وائی حالو
فیضیا به ئې په فیض سره هرڅوک دی نشته منع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح نمبر ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
دا صدا څما نۀ ، بلکه دا د عامُ الناسه ده

ض موندلے چا نه دے؟ څه وه هرڅوک دی؟ وایه
ا په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائ؟ خدا یه
په کوټ او کوره حال احوال ، نۀ چه د ورایه
نوره د انصاف دِ تیره زیاته د الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

کر د اکبر دے سوات پیتا باندِ روښانه شوه
م نښان اوچت ئې دوره زر چه د هر چا نه شوه
ا اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالکمال د دے چہ منکول پرے ستا الیاسہ دہ

هر سړی مومندے لویہ برخہ ستا د لاسہ دہ

ن د قام د یارہ دلتہ هرځائے اسکولونہ دی

نو د ترقئے هم ستا د ورانده اسکیمونہ دی

هر خوا نہ موجود ستا د تعمیر بنہ مثالونہ دی

دے دا حقیقت هسے خبرہ نہ د قیاسہ دہ

هر سړی مومندلے لویہ برخہ ستا د لاسہ دہ

لاس پہ نام و لاړ فکری دعا ستا د اقبال کوی

مراد دِ ستا حاصل شی پہ دارین کښی دغہ سوال کوی

تہ چہ رهبری کوے تفصیل ئے د اجمال کوی

تا کویا آغستے چرتہ خوند د الیاسہ دہ

هر سړی مومندلے لویہ برخہ ستا د لاسہ دہ

---



## طرح ۱۲

## دروغ نہ دی رشتیا دی پہ رشتیا کہ دِ یقین شی

---

...ہ یو باغ دے پکښی تل چہ وی بهار

...ازاد ور پکښی گوځی بلبلان کوی چغار

...شتہ دہ د جنت امن آمان پکښی بسیار

...ان ئے خبردار د زمانے دے پہ اسرار

جنت بہ وایم سوانتہ کہ جنت پہ سر زمین شی

دروغ نہ دی رشتیا دی پہ رشتیا کہ دِ یقین شی

...یہ دہ د جنت زیب و زینت لوی بے شانہ

...رت پکښی جوړ کړی مناظر دی لا بیانہ

...یږی گل، غوټئ پانڑے هم ناچ کوی د ځانہ

آواز د طائرانو اوریدے شی د هر خوا نہ

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



احوال اوګوره راشه چه حاصل در ته تسکین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دیقین شي

نظیر دے د جنت ښکلے د سوات ازمکه نامدار

طوطیان پکښې چغار کوي بے خوفه له آزار

دا دور بختور دے، دې هرڅوک شکر ګذار

خزان دې مولی دور لري د دے چمن ـ ګلزار

په امن د آقا تو دې د دے هر یو مکین شي

صد شکر د اکبر دے چه په امن کښې اول یو

د قحط کښ مکښه یو د هر قسم غوبل یو

اقبال د جهانزیب دے منظم او مدلل یو

د علم په زیور سره فکري! شو مکمل یو

حافظ دې د غازي څښتن الله العلمین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دیقین شي

(عبدالمالک فکري، تندو ډاګ سوات)



## فخر الشعراء جناب غلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندی (صوابي)

طرح ۲

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دیقین شي

هزار ځلے دشمن که ئې بے باکه نکته چین شي

هلال چه د خودئ چړے کمال سره قرین شي

جمال د قاهرئ ئې هله ستورے د جبین شي

د وحدت په ګوته کښې د سلیمانؑ هغه نګین شي

په تخت د حکومت باندې فائز به بیا هغه تمکین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دیقین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چه دِ محکم شهٔ نو قوّت ترِ نه جوړیږي
چه پاک دِ شه قوّت نو حکومت ترینه جوړیږي
چه نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړیږي
که دروغ دِ وهٔ سیرت نو شجاعت ترینه جوړیږي
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل درته آئین شي
دروغ نه دِ ی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شي

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ آسمان فقط حُباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سَراب دے
دَده او دَ حق مینځ کښې دیر نرے غوندې حجاب دے
اُوچت شي دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شي

دَ سوات دَ والی کارواره تعبیر دَ ژوند کښې دے



...هان دَ تصوّر کښې ئې تفسیر دَ ژوند کښې دے
...یات ئې سراپا وینه توقیر دَ ژوند کښې دے
... و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوند کښې دے
...ظام په محکمئ دَ ښهٔ سیرت سه سنګین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شي

... دَ مینوش کښې که دا طوق ئې دَ خدمت دے
... دَ والی صاحب نښان دَ محبت دے
... وجه لازم هما ئې ټول عمر صفت دے
...ک چه چا حلال کړهٔ نو دا عین شرافت دے
کمال دَ حُسن هم دے دا که ګورے چه نمکین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شي

---

شیر محمد مینوَش تورلاندی، صوابی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلی احمد جان صاحب نشتر علیګرامه سوات

---

طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

دلشاد ګرځي آزاد شه هر نفر چه د جنجاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

خوشحاله ټول وطن د رب په دے کرم عظیم دے
په دَورِ جهانزیب کښې چه مونږ جوت شولو دَ سیاله

شکر بیا پرے شکر چه ګم سته له دے ذات شه
معراج د ترقئ ځمونږ نصیب د ذوالجلاله

پښتو نه را شه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دے
واوره درته وائي د هر ګل زبان د حاله



عروج د ترقئ چه د دے ذات په مخے بیاموند
ګرځي هر نفر لکه سورما ځمونږ د خیاله

عزت دے که عظمت که دِ دولت دے جهانزیب
راحت و مسرت دے وصول تا کړه د اقباله

واوره د خوږ وطن ته که غوږ کېږدے څنګه وائي
اکر شه په دولت د خپل وطن د لایزاله

په در کښې د خالق به د نشتر وی دعا دا تل
آشنا کړه مونږ د خوږ وطن د ننګ د لوی کماله

---

طرح ۲

لوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

تو ته نیمه شپه کښې جهانزیب بله کړه شمع
لوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُو چت یې کړه خوږ راګ پسې شروع شو نو بتونه
مائل شوه د هر مُلک د هر وطن نه وته سمع
زاغان که خا پیرکې وو روان کل شو نامراد
ربړا د جهان زیب کړه له دې وارو قلع قمع
خوږ وطن ځمونږ به د جنت نه یو حساب شي
د درد لایزال نه د نشتر شوه داسې طمع

---

## طرح نمبر ۳

هر سړي موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

---

فضا د کرم ستا چه نن پسه ځمونږ لیاسه ده
هر سړي موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده
سیرت د فرښتو نه فیض د نمر نه م آقا ځنې
حسین چهره در کړې لایزال عجب د ناسه ده



سوات د ګلو ګر خو د قسمت چه د اصلاح کړې
سرګنډه مونږه تو لو تر زیباله بنج خواسه ده
وطن د پښتنو چه په رشتیا سره جنت کړه تا
د حال ژبه ګویا د هر چمن پرې د احسان ده
اې شاد پښتنو د وطن زیبه! جهان زیبه
صیاد هر حباد په کودار د چپو راسه ده
طوطیان له د چمن بر د تل ستائي په نغمو سره ده
منحوس ژبان د زاغ ده چه محروم له دې سپاسه ده
دایم به پښتون در تر قائل چه په احسان نه شي
هیڅ به کامیاب نه شي ثابت ځمونږ د قیاسه ده
اې ځمونږ سلطانه مبارک بیا مبارک دې شه
وینا د نشتر دا ده چه سرګنډه له قرطاسه ده

## طرح ۱۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

پښتون به خوار شی څنګه چه بادشاه ئې دا آمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی
نه یم ریاکار ځکه چه نه خوښ م ریاکار شی
ځای د ریاکار به په آخر کښې تحت ترین شی
کیده لوی قدم ځما د سوات په سرزمین کښې ته
ګوره کائینات چه څوک وطن ځما آئین شی
دے د دم قدم د عالیجاه بلند ځما ځمونږ
زیات به له دے حاله استقبال ځمونږ رنګین شی
آباد لرے خاونده حکمران ځمونږ د سوات
په سوال دِ د نشتر له فرشتو نه هم آمین شی

احمد جان نشتر سکنه علیګرامه سوات



## شاغلی مولوی ضیاء الحق صاحب
## علیګرامه سوات

## طرح ۱۱

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

مونږ تل حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله
هر څوک دِ هر منډ کړه له خپل جود او له نواله
ټول ستا دعائی کړی که څوک لوی دے که خورد ساله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
جوړے دِ هر ځائ ځمونږ د پاره مدرسے کړے
خو له دِ هر سړی دِ د علمونو هم سے کړے
معمور دِ کړه کل وادِ هنر او د کماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دی چه پیښے شه شن ت [illegible]

له رور اوله عزیزه ئے بغض وعناوت [illegible]

بل کار به له دوی نه وه ئے له جنګ اوله جداله

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

اوس ناست دی په آرام سره کوی عیش وعشر[illegible]

پیدا ئے پوله بل سره دے انس او محبت

تول ستا شکر کنا ردی خلاص د ظلم د جنجاله

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

جاری په هر مقام بانډِ ستا بحر د کرم [illegible]

ن ستا په اهتمام سره تول سوات باغِ ارم دے

پاک رب دِ معمره په عمرِ نوح کړه نیک خصاله

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

پو نز تل حکمران اوسے آشاه بلند اقباله



[illegible] چه په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی

سوات په سرزمین کښی جهانزیب دِ حکمران وی

دا سوال حمونږ قبول کړے پخپل فضل ذوالجلاله

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

پاک رب دِ معمره په عمرِ نوح که نیک خصاله

[illegible] ضیاء الحق دے ستا غلام حلقه بګوش

[illegible] کړے له خپل لطف وکرم نه فراموش

د دا سے خاکسارانو پرورش کوه دعاله

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

هر څوک دِ هر مند کړه له خپل جود او له نواله

---

مولوی ضیاء الحق، علیګرامه- سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے جناب سلطان محمد رضا منکوری۔ سوات

طرح مصرع

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

دا لوئی رحمت د رب دے په جهان دے بے مثاله

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

دنیا کښی د هر قوم د انتظام نشته امید

هیڅ امن ممکن نه دے بے امیره په جهان

داشاد بلکه عدم دی چه آمین وی د جهان

رحمت خوئی فرشته څوک والی دے بے مثاله

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

بے لوئی تربے ریا تل د خپل قوم کوی خدمت

PUKHTO.NET



روز غمخوار د قوم د ترقی د پاره په محنت

اسی دے تر ینه ځکه رب په دغه نیک خصلت

جلال کمال بے ځکه دے د رب نه بے مثاله

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

بل څوک د سوات دے جهان زیب په زړه سلیم

د هر نیک کار دے بلاریب په زړه حلیم

مقبول د عام الناس دے شرافت لوی عمیم

صد آفرین پاچا شه او الی ستا په افعاله

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

نه شه تاریخ هم د گل سوات ستا په دوران

ل ستا د انصاف ځکه هر څوک دے د جهان

اصل مجاهد بے خپل مذهب د کوه روښان

قائد لقب د سوات اصدر اعظم دے بے مثاله

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

دا سوات یو گلستان دے تہ هم گل ادهم شمس

دادرس دَ هر مظلوم یې تہ سایہ دَ هر شی

تہ سورے دَ رحمت یې تہ رهبر دَ هر بشر

دَ ټول قوم پشت و پناه یې گشتیبان یې بے مثاله

یو زه یو ازے نہ یم پہ دے باندِ خوشحاله

در اصل تہ دَ خدائے یې پرستار دې یې پہ خلو

ستا نیک عمل دَ هر مومن پہ زړه جوړ شوے مو

دَ هر مفسد دَ زړه نہ حسد و ورشه ستا پہ چو

ن سوات دار الامان شه پہ آرام دے بے مثاله

دعا و رب تہ مدام کوم زه مرزا سلطان

آمان دِ دَ زوال کړی رب دَ عدل دا میزان

قایم دِ پہ جهان وی دَ اقبال ستورے روښان

فصیح ملیح بشر ځمونږ والی دے بے مثاله

یو زه یو ازے نہ یم پہ دے باندِ خوشحاله



## طرح ۳

بلوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستر جمع

---

دا بارہ دسمبر دے یو نسیم دَ نو بهار

بلوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستر جمع

دا بارہ دسمبر دے بنځم کال ځمونږ دَ عیش

ان بوړه دَ رحمت دے دا تاریخ ځمونږه بیش

روښندہ کواکب دے دا اقبال ځمونږه خویش

دا ستورے دَ رحمت دے جهان زیب دَ هر دیار

رنړا پہ سوات بونیر دے کل جهان دے پہ طمع

عادل دے جهان زیب رب پہ سادل باندِ کړی ځمونږ

انبارہ دَ ظلم لاړه نن پہ سوات شروع دے فجر

شب روز ځمونږ دَ قوم دے تل ظالم تہ کوی قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امن فرښته ده د رحمت د رب غفار
داسوات دارالامان دے په رښتیا سره بے غمه
د قوم د ملک د پاره شب و روز کوی محنت
هم خوب او هم خوراک یے دے د قوم په محبت
عاشق دا جهان زیبا دے معشوق خپل رعیت
دراصل مجاهد دے، رد بدعت، شوه سمه لاره
دعا د عام و خاص ورته جاری ده هر دمه
ملیح دے هم فصیح دے جهان زیبا د هر بشر
ناصح د هر قبیح دے دل صفا دے په عنصر
روښان یے کل جهان دے معطر دے منور
اَنتَقشُ فِی الحَجرِ یے په دنیا جوړه شه یادګار
مقبول د عام و خاص دے مشهور د توله عجمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کښیناسته جمعه



ته په درګاه د رب غفار کوه اے سلطان
کل مخلوق دے هم رڼا زیب د جهان
ترقۍ عروج د سوات دے د آسمان
د عدالت رڼه جاری لوے په جار
نه یے کل سوات دے زړه خالی لری د غمه
په ګلستان کښې په خندا کښیناسته جمع

---

طرح ۳

سری موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

د صبا یې شوے چه رڼا د عام خاص ده
سری موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

رحمت یے نه تا فیض رسی هر چا وته
رحمت یے چه جاری شوے هر خوا وته

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیب دَ کل جهان شوے دَ زیرو نه بالا وَ ته
ابر دَ بهار یې غنچه زمکه ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته باد نسیم یې چه مدام بهار دَ ګلو یې
ځه بنه منقسم یې چه مدام سمهار دَ ګلو یې
خه بنه منتظم یې چه مدام معمار دَ دَ لوے یې
هر پښتون شرف رتبه مونده ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته خوشبویه ګل یې زیب دَ باغ او دَ جهان یې ته
ته زیب دَ دربل یې سیال دِ نیشته عالیشان یې ته
ته قدرشناس یې قدرمنده قدردان یې ته
تل عفوه سزا په مظلومانو ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده



تل ته مساوات دَ هر مسلم کړوے دَ ځان سره
نشته عدالت کښې تفاوت زیرو بالا سره
ګڼه رب نظر دَ رحمت کړی له تا سره
ته مشعل دَ شوائے رڼا یې پړ ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

بارهٔ دسمبر دے دا پنځمه سالګره دَ شاه
هر سړے مسرور دے استقلال دَ خپل ملک دَ جاه
بخت دِ بار آور شه جهانزیبه! شه تا بنده ماه
تل کوی دعا سلطان محمد چه یې دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیب ستا دَ جهان دے، جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته صدف یې دُرِ شهوار ستا جهان زیب دے
محفوظ دا امانت ساته دَ رب نه ستا دا زیب دے
تل خیال یې تو کمال ساته زوال یې ستا هر عیب دے
کمال یې ستا کمال دے دا کلام که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

PUKHTO.NET

اے سواته، ته تاراج وے تل دَ غیرو وے آماج
بے سره سرپرست تباه برباد لکه دُجاج
صد شکر دے مالک شوے دَ خپل قوم دَ ملک دَ راج
سامان هم دَ عروج کمال به ستا جوړ بالیقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

ستا وړانه شیرازه وه، مکمله شوه هښیار شه



معمار دَ خپل قوم پیژنه ځان ویخ کړه بنه بیدار شه
تعلیم صحت، تنظیم شه ستا نصیب شکر گذار شه
دالوئ غمخوار همدرد ستا دا والی دے که یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

حفظان بچاؤ دَ خپل عزت دولت که دِ مطلب وی
همدرد شه دَ سردار زیب دَ جهان که دِ مطلب وی
دیوه دَ خپل قسمت دے، ډیر احتیاط که دِ مطلب وی
ځان نوی په سود ورزیاتوه په ایمان که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

گمنام وے ته اے سواته تل دَ غیرو وے غلام
ظلمونه، بدعتونه، وران رسمونه ټول دَ قام
مالک دَ شریعت دَ سیاست شوے نیکنام
مشکور به دَ احسان دَ خپل والی شی که یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ستا تماشګیر ده ستا د عقل په نظام
تل هوښ عقل سلیم ستا ته د خپل ملک په دوام
هلال انګشت نما شوې د عروج په هر یو سبام
تل زیب ستا د جهان دې جهانزیب که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

ماهر د سیاست دې جوهر رستم د زمانې
قائد ځوانانو د سوات دې یو یادګار د زمانې
قاسم فاتح د سوات دې د بدعت د زمانې
ژوندے نوم آبدي شه، زیب د سوات که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

دراصل خیرالناس دې د اسرار ځوانانو د قوم
رحمت دې د الله ځوانانو د پاره د قول قوم
بشر د رب په فضل دے غیبي رحمت د قوم



ماهر د سیاست عقل سلیم که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

د رشب و روز کوشش جاري دے ستا د ترقۍ
نه خرچه ستا اولاد له جوړ بنیاد د کامیابۍ
د توتو نه وروستي وے اوس شو وړاندې په سیالۍ
اے سواته خوش قسمته په خپلا دین که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

مرزا سلطان به تل د رب په درګوې دا سوال
عزت ژوندون مدام ورکړې د خضره په مثال
دائم دِ د قسمت د سوات ساتي تل د زوال
تل زیب دې د جهان په جهانزیب که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

---

سلطان محمد، منګوره، سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلے شیر صاحب چنداخوره سواتی

## طرح ۴

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

تیاره کښې د نوا هله وی ښکاره چه عارفین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

تیاره نوره تیاره وه چه لا نه وه حکومت
نه علم نه ادب وه نه چا پیژند شرافت
هر څوک وو بې خبره د هنر او د حکمت
نه دول وه د خلقو او نه دا زیب و زینت
همت اوکړو مالیار نو مرادې بوټې هله شین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET



همت د جهان زیب چه کړه د عدل ډیوه بله
پښتنه د خپل قام نه یې د هر تکلیف کوله
فائده د رعیت به یې هر وخت لټوله
مدام میوه د رحم یې په هر مقام کوله
اوس وائي ټول قومونه چه په شاه دا آفرین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي

اوس وائي ټول په شوق چه د شاه یو وفادار
قائم دې وي تل دا سلطنت په ورد دې کار
دا ښکلے وطن باغ شه په دې باغ تازه بهار
رښتیني وائي شیر خادم لفظونه د اشعار
راځي دې د هر ملک نه څوک سیل تماشا یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دیقین شي

شیر، چنداخوره، سواتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلې خور مهر النساء صاحبه بانو
## کوکارئ، سوات

---

طرح ۳

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی مونده لویه برخه ستا د دره ده
منع د عطاء نه د کهتر، نه له مهتره ده
بل چینه جاری د عنایت د له دفتره ده
هغه توے فائز چه اراده یے له اخلاصه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

بلبل کوی نغمے په باغ کښې توجې په نخرو
قدم اخلی د نازه په رو رو راځي خارو



شر شور کوی طوطیان د دے وطن په سر دره
دا ستا ښکلے دوران ښه زمانه خه په هر سه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

قومه خوشحالیګئ چه نن بارہ د سمبر دے
والی صاحب په دے ورځے اینبودے تاج پسر د
ده ورځ د خوشحالۍ ځکه په هر سړی اختر دے
خوشحاله نن عالم دے خوشحالی پرے بے قیاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

ستا ښکلے دوران دے پرے مزے د غریبانو دی
خاندی خوشحالیږی خوشحالۍ په مظلومانو دی
سخت ورځے نن د ریاست په ظالمانو دی
رب د اجر درکړی داد عام خاص الخاصه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د علم جال په وطن خور کړه فیض رسانه
هر یو کار خیر کړے ته خپل قوم له مهربانه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ فیضِ عام نه رعیت شه توول شاد انه
څکه دِ رتبه په بادشاهانو کښې پیا سره ده
هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

حق چه ستا دَ شکر نه منی هغه انسان نه دے
نه محسن هغه دے چه قایل دِ دَ احسان نه دے
رب چرے ملګرے دَ ناشکره مسلمان نه دے

ستا ده دُعاګو څکه بانو چه حق شناسه ده
هر سړی مونده لو یه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## مهر النسآء بانو ، کوکارئ ، سوات



## بناغلے پیر محمد خان صاحب داکی ، سوات

---

### طرح ۱

زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

خیر یوازے ما دَ پاره نه دَے خود عام دے
هر سړے رضا دے څکه خلاص شو دَ جنجاله
زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

نشته دے خفه د رنه هیڅوک دَ سوات په ملک کښې
نور ملکونه وائی چه شو لانډِ ستا دَ جاله
رعیت به دِ څود فخر کړی چه ستا غونډِ ئے شاه وی
هر سړے دِ لانډِ دَ پوره پوره دَ خیاله
دا ستا دَ توفیق سوال چه کوی په څامین دَ توول
بل تا غونډِ څوک نشته چه دشمن کړی بے مجاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوات که حیوانات که جمادات دي ټول نارې وهي
عادل يې ته عادل اې والي شاه باکماله
پوره به وصف نه کړي که شروع پير محمد خان شي
که تير په ډېر وينا کاندي اتلس نولس کاله

---

## طرح ۳

طوطيان په ګلستان کښې په خندا کينا سته جمع

طوطيان په ګلستان کښې د خوشۍ کړي خندېده
د يو شاخ نه کړي بل شاخ ته د نازه ځغېده
تيارۀ د خيره لاړه زاغان ځکه رمېده
د ده د مخه تختي دښمنان تويه وي دمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کينا سته جمع
تيارۀ د ملکه لاړه په وطن آباداني ده
ويستلي دي دوستانو د آرام زندګاني ده



چه بغض لري زړه کښې ډېره يې زياته ناداني ده
قربان چه لتاسر کړي ورشي د عقل قمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کينا سته جمع
وطن دې د ختن څخه دوچند جوړ که نقاد
خوشحال به وي هغه چه کړي تير ساعت په ياد
نه جهل شته نه مکر نه فريب شته نه فساد
دا رحم دې چه بله شوله ستا د حسن شمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کينا سته جمع
په ورځ د تاجپوشۍ خلق يو بل ته مبشر شو
د زمکې زير ګنجونه د زمين سر ته ظاهر شو
د چالاس کښې چه خاک وو هغه واړه جواهر شو
ته يې سنګ فارس خلق به زر کړې لري طمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کينا سته جمع
په فضل د الله دې هره چاره منتخب شه
بالا دې په شاهانو کښې اې شاه لوی منصب شه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې صاحب وطن واړه په مثل د جنت دې
خوشحاله ترې هر وخت تمام واړه رعیت دې
دعا ورته کړو نن ده هر یو کار دې سنګین شي
دعا ورته کړو نن ده دا دعا د رب قبوله کړي
خلاص دې په دین دنیا کښې پاک الله د نوله کړي
نیکه دې غوث الزمان دې په دعا دې رنګین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي
نیکه دې غوث الزمان دې په سیدو شریف مزار لري
تخت ترې دشمن شاه جهانزیب لاس کښې تلوار لري
شي د مبارک هم مبارک د همنشین شي
شي د مبارک مبارکي مونږ له پکار ده
وي پیر محمد خان د داګۍ پاکه راته لار ده
دا دوه د قایم وي هم قایم دې تر آمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

پیر محمد خان داګۍ، سوات



## بناغلي محمد نوشیروان صاحب شاهدیرۍ

ریاست سوات

طرح ۱۱

**یوزه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله**

یوزه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
خوشحاله هر انسان دې خبر که د احواله
خوشحاله هر انسان د خوشحالي کړي کور په کور
بورا په سرو غنچو د باغچو ګوځي لور په لور
بلبل د ډیره جوش ځان له جوړه که ترنګ ټکور
بادشاه چه عادل راغي خلاص د خلق ځنجاله
یوزه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
بادشاه د عدل راغي هر ځای جوړه شه انصاف

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حق په ستر که اُو گوره پکښې نښته خلاف
بېزه شاخ اُو به سکي تل په یو کو درکښې صاف

قلم مِ شه ناچاره ستا دَ وصف دَ کماله
یو زه یوازې نه یم په دې باندِ خوشحاله

قلم مِ شه ناچاره ستا دَ وصف نه سلطانه
عادِل يې رحمدِل يې په غریبو مهربانه
رشتینې ظِلّ الله یې اې حمو نږه حکمرانه
بادشاه دَ هر وطن شې سوال کوم دَ ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندِ خوشحاله

بادشاه دَ روئ زمین شې دعاء کوم شام و سحر
تاریخ دَ تاجپوشئ دِ دې په بارهٔ دسمبر
داورځ دَ خوشحالئ ده یو نږ باندِ لوئ اختر
مزا نوشیروان ځکه په جوش کړې دِ دَ خیاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندِ خوشحاله
خوشحاله هر انسان دې ځان خبر که دَ احواله



## طرح ۲۷

## طوطیان په گلستان کښې په خندا کېنا سته جمعَ

---

طوطیان په گلستان کښې په خندا کېنا سته جمعَ
شُکر دې الله چه دَ زاغانو لړ شوه طمعَ

شکر دَ الله دې چه زاغان شو تار په تار
بېل چه شه په سوات کښې دَ مظلومو مددګار
فضل یو نږ و شه دَ خالق غنی غفار
دَ ظلم تیاره لاړه چه روښانه راغله شمعَ
طوطیان په گلستان کښې په خندا کېنا سته جمعَ

تیاره دَ ظلم لاړه رڼا یې شوه په جهان
مولی دِ تل پس لری حمو نږ دا حکمران
دَ سوات زمکه یې جوړه کړه ښائسته جنت نِشان
دَ حق په غوږ کو وا وره دا حماندا په سمعَ
طوطیان په گلستان کښې په خندا کېنا سته جمعَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق په نظر اوګوره د سوات په سرزمین
ځائے ځائے بنګلے خائسته باغچے په ښه آئین
سوال مې په درګاه کښې دے د رب العالمین
خاوند دې لایزاله د دشمن نه اوباسي قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستي جمع

خاوند لایزاله دشمنان نه کړے تاراج
ترڅو چه وي ژوندے پس د ده لره دا تاج
مزا نوشیروان په محبت لکه د رواج
د خولے نه د جوش پوره اوختله لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستي جمع

## طرح ۳۱

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده
شک پکښې هیڅ نشته دا خبره بے وسواسه ده

PUKHTO.NET



شک په دے کښې نشته ځاودره قتیل و قتال
ظلم ستم زور روه هر سړے وه په جنجال
چرته د سوات زمکه چرته داسے څه ول حال
لاندې په تهذیب چه وه د هر چا اوس لیاسره ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

چه ته وه تهذیب سراسر جوړ وه جهالت
د خان ملک د لاسه دا وطن وه په زحمت
فضل د رب و شه ستا پوړے راغے حکومت
اوس که فکر اوښي نظاره د کور وپاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

اوس که فکر اوښي نظارے دي لور پلور
لارې موټرے دروځي هر سړے ځي پکښې سور
سړکونه مزین شو آبادي شوه کور پکور
زه به د قلم مې تیره کړے د الماسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه دَ قلم مِ تیره کړے په هنر
تاریخ ته چه مِ وکاته وه باره دسمبر
هر سړے خوشحاله ګرځي چه ورله دے پړے اختر
مرزا نوشیروانه خوله دِ ډکه دَ سپاسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

## طرح ۲

## دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شي

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شي
آواز دَ صداقت چه وی دَ هر چا پکے آمین شي
دروغ نه دی رشتیا دَ ماضي او ګوره حالات
پوره به در معلوم شي حقیقت او واقعات
دَ عدل زمانه دَ خوشحالی ده نن په سوات
اَمن دَ آمان دَ خبر دار دِ سامعین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شي



امن دے آمان دے هر سړے دے په آرام
سوات شه په مثال یوه نمونه دار السّلام
غازي ملت چه بنه خدمت او کړو دَ قام
په خپله به قائل شے که دِ زړه کې بادَ آئین شي
په خپله به قائل شے چه خبر شے په احوال
چه ته په دنیا کښې به ئې پیدا نه شي مثال
دائم دِ وی قایم دِ وی داستو رے دَ اقبال
قبوله که دُعا مِ په درګاه دَ رب متین شي
قبوله که دُعا مِ شي په در دَ پاک اکبر
مُبارک دِ تا جپوشي وِی نن په باره دسمبر
مرزا نوشیروانه ستا پوره نه شه دفتر
که لاندِ دَ نظر نه دِ تاریخ دَ سرزمین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شي

مرزا نوشیروان شاه ډیرۍ، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلي شير افضل صاحب افضل

## سيدو شريف، سوات

---

### طرح ۲

طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

---

چه بله ورته شوه د جهانزيب رخسار شمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

ګلونو هر طرف ته په بوستان کښې اوکړو زيب
ځاى په ځاى انصاف دے چې ته نشته دے فريب
هر ځاى امن آمان دے په اقبال د جهانزيب
شمشاد ئې سلامئ لره راځي د باغ رمه
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

طوطيان ئې سلامئ لره راځي د سردرونه

PUKHTO.NET



پائے به حيران شې که خبر شوے د قصو نه
تياره د جهل وے ته ده د سوات د کنارونه
هر ځاى خوشحالي ده سالګره ده د نن شپې مه
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

هر ځاى خوشحالي ده ګل د ګل سره سيالي کړي
سواتيان بې غمه ګرځي ټول خوشحاله خوشحالي کړي
خه دے لاما مت چه حفاظت ئې دا مالي کړي
محروم ئې پرې ايږدي نه د څوک د لطف د کرمه
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

محروم ئې د دره څوک تلے نه دے
راغلے چه په خيال کښې څوک د ده دے
شک ورېکښې نشته الحمدلله ښه پوره دے
افضل وائي سرمان مې د قربان دے صنمه
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

## طرح نمبر ۳۱

هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

---

کنړ نه یم په غوګو ما اوریدلی د عام خاصه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

کنړ نه یم په غوګو د هر کس م اوریدلی دی
دروغ یمه په سترګو کارنامې م ستا کتلی دی
سوات شو لو ګلزار چه ظالمان تر ربه وېستلی دی
داسې ظالمان په مخکښې ستا د خپو خزلی دی
اې د عدل ستوریه ما وېستلې داد قیاسه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

اې د عدل ستوریه ستا پشانه حکمران
چرته به پیدا نه شی که چا نه کړی ټوک جهان
سخا کښې ستا پشان به پیدا نه شی داسې ځوان



تاجداره ناموره رب دې تل لره شادان
درجه دې رب سوا کړه دا دعا م د والناسه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

درجه به نن د یار دې کړه بلنده پاک سبحان
مالیار دې هم الله لره د سوات به دې بوستان
ډېر به وی کم عقله چه به تا نه وی خفګان
حق تا به حقدار و تقسیم کړے په خه شان
هره فیصله ستا د یوے پلے لپاسه ده

د حق د فیصلے دی پرے قائل هم ملکونه دی
حکمه اے سلطانه هر ځای ستا صفتونه دی
بنګلې د نظام دې ځای په ځای ښه چمنونه دی
لاړه تیاره کی بل به هر ځای مشالونه دی
افضل وائی عمر دې ډېر شه دا زما ستا د اخلاصه ده

---

شیر افضل، سید و شریف، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے خانے صاحب منګوره، سوات

---

## طرح نمبر ۱

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

---

یوزه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله
هر انسان چه وینم کوک ګړی ځی له خیاله

سوره سمبالیږي، قد د صنوبر وینه
راشه تماشې له، ته د قام رهبر وینه
دا زیب د جهان دے، ډک دے د کماله
یوزه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

دا رحم چه اُوشه، نمونګه په سحر کښې
ګل شه دا ګلاب، په باره د سمبر کښې



دے چه خدائ بادشاه که، شم زار د هغه کاله
یوزه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

دے چه خدائ بادشاه که په باره د سمبر
لوے ده یو دم که د عدل قام ته وَزر
موسم د پسرلی شه، شو خلاص د پشکاله
یوزه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

خاوره یو شه زر سره، کانړی یو لعل نه شو
جوړ ترے قسما قسم راشه وینه محلونه شو
خانے حکمران دے وی دا بلند اقباله
یوزه یوازے نه یمه په دے بانډ خوشحاله

---

## طرح نمبر ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستۀ جمع
ملک ټول بهار بهار شه، شوه بل د عدل شمع
چه کوم وخت په چمن کښې د طوطيانو شه چغار
سړي ځان له جوړه که عجيبه ښکلے سنګار
د عدل خوشبوئي شوه بلبلان راغله په طمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستۀ جمع
روانه خوشبوئي د عدل شوه د ښهر يار
په باره د سر کښې تاج پسر چه که تاجدار
غګ د اختر اولګين د هر سړي په سمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستۀ جمع
هر سړے خوشحاله شه چه شه دريم اختر
شرع عدل انصاف شه لړ شه د عدل ور
ډيره خوشحالي شوه د هر چا وچه شوه دمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستۀ جمع



دا عدل انصاف نشته نن په زمانه
لوي واړه ځمونږ ده شو په عقل پيمانه
اے خانے قصابه هر څوک شو په طمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستۀ جمع

---

## طرح ۳۱

هر سړي مونده لويه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړي مونده لويه برخه ستا د لاسه ده
جهنډه د ترقي ځمونږ په ټول جهان د پاسه ده
ستا په همتونو سره لوړ ځمونږ وطن شه
د سيلاو سره سيال شه، ښکلے هر ګلشن شه
دا مهرباني ده هم د عدل د لباسه ده
هر سړي مونده لويه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ترقئ وړکوۓ قام له مُلک زيبا شه
په باره د سمبر کښې د هرچا حق ادا شه
راغلے دا نقشه هم د سنے يو کم پنځاسه ده
هر سړی مونږ ته لويه برخه ستا د لاسه ده

دا کار په اتفاق اوشه، ستا په نيک خصلت
تل به ته کامران يې، چه وي دِ دا صِفت
دا معلومه شوه مونږ ته هغه وخت د قيادت ده
هر سړی مونږ ته لويه برخه ستا د لاسه ده

اے خانے قصابه، ستا چه خوږه ده نو ان وي
صِفت به دِ په خولے کښې د خپل عادل سلطان وِي
و تلے دا تهکره يو د سختئ او د افلاسه ده
هر سړی مونږ ته لويه برخه ستا د لاسه ده

---

طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شي



دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شي
چه دا عدل انصاف وی جهان به يو رهين شي

ښار شا باړه وطن وه جوړه د ظلم يو سنګار وه
يو دم يې صفا که چه عادل يې شهريار وه
ليدے د عزتونو سنګارن به هر جبين شي
دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شي

خپل حمونږه مُلک دے، خپل بے حکمران لرو
تول شکرګذار يو چه دا سے رنګ سلطان لرو
هغه مُلک به لوړ شي چه سردار يې خپل مکين شي
دروغ نه دی رښتيا دی په رښتيا که د يقين شي

د ده په برکت حمونږه لاړه شه جهالت
په باره د سمبر وطن ته راغے ډير راحت
دا وی خانے قصاب چه لوی داره به يو حسين شي

---

خانے قصاب - منګوره، سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library
PUKHTO.NET



# بناغلی دِ لاورخان صاحب دا کی

## ریاست سوات

### طرح ۱

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی
یوزه یوازے نه یم په انصاف دَ صاحب کوم
مستی تول رعیت کوی دَ هر قسم چه کوری
پردی مال ته کاته دی دَ هر جا په زړه کښې شرم
غنیان داره سواتیان شو، لمتوی دَ دولت لوری
انصاف دَ شاهِ سوات اکړه دَ ډاکوانو خاطر نرم



اکثر صاحبِ مال شو زکوٰة تو نه نے خیل زوری
مخلوق تعلیم یافته رعیت یک شه دکماله
قایم دِ دا انصاف وی خوځ نه چه پرے مشکور دی
قائم دِ حکومت وی خو چه وی دنیا آ بساده
بلاس دِ دَ شاهئ دَ صاحب دا ز تخیر محکم وِی
بهار دَ حکومت دِ خدای ساقی دَ غم دَ باده
دادور دَ گلونو دِ په دے گلشن هر دم وِی
د بدب دِ دَ شاه تل وِی دا دبدب دَ سوات حیاده
حیا دِ دا حکومت نه پس شب و روز هر دم وِی
نکاه دَ غریبانو نے دَ سوات شاه دَ رحم خیاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
حکمونه معتمد دِ دَ شاهئ په هر دستور دی
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی
حکمونه دِ دوی ستا حاشے دَ حکم اے سلطانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی لکه د متن، متن دی چه د معنا نه
مسکن دی ستا گلشن شی، د گلشن نه ته شې څوانه
ترڅو چه دا دنیا وی ته محفوظ شې د دنیا نه
کشتن دی ستا تاجدار وی چه تاجدار شې د هر شانه
ایمان دی سلامت شه، سلامت شې د ایمانه

دشمن د رعیت دی همیش ستا وی بې مجاله
ستا تاج دې د دولت سوات رعیتان په تا معمور دی
رعیت راضی په تا دے چه د تا پرې نیک خیالات دی
خیالات دی د نیکئ همیشه ستا د قوم پسر وی
ظلمونه ستا په نیک فهم د خوارو پسر محط دی
برې د خپل نیکه دی همیشه د تا رهبر وی
حقوق د عدالت ستا دی په هر وطن کښې زیات وی
دا غمګ دی قاف تر قافه مدام ستا د بر نه بر وی
ترڅو چه دلاور غمگین محروم نه وی د قاله
د هغې د اسوالونه تل په در کښې د عفور دی



# طرح ۲۷

## طوطیان په گلستان کښې په خند کیناسته جمع

معموره پرند د سوات په ملک کښې په ثمر دی
طوطیان په گلستان کښې په خند کیناسته جمع
معموره هر آشیانه د سوات په ملک کښې په خندا دے
محفوظ امن آمان یکښې چلیږی د هر قسمه
موسم د پسرلی د سوات په خدمت مدام پیدا دے
اقبال د شاه د سوات بدخواهان کړه بهر د رسمه
گل ښه وخت بلبلو ته د نازه په ندا دے
خوف ووت د گلونو د خزانه د جهان جسمه
شبنم خو تهی غوټئ لباد گلو مقرر دے
طوطیان او بورا مکانا خوشنود په کیناسته جمع
طوطیان او بورا مکانا په سوات کښې د که معتبر دی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم په عدالت په سوات کښې هر زمان ګلزار دے
د خوف نه نه خزان خفګان ژړېږي کور وګړ دي
حیران څمونږ وطن ته ټول کابل او قندهار دے
موسم پرے معتدل ګرمي یخني سم برابر دي
آبي د سوات اهالي په نیک فهم د سر دار دے
چمن چمن څمونه د یورپ ځنې بهتر دي
مخلوق د هر وطن د لته شاد اوسېدل ګینا ستۀ جمع
راځي د سوات لیدو له د هر قسم مخلوقات
والي صاحب د سوات نام منور که قاف تر قافه
حافظ د سوات ایستلي بد خواهان دي د هر بات
منسوخ ظلم زور د شر آن د هر قسم اسرافه
رهبر د غریبانو دا سلطان دے عالي ذات
ګواه پرے ټول عالم دے چه هر ځای کښې د انصافه
مشتاقه دیر عالم د سوات د شا عدل ګستر دي
بد خواه د شاه سوات ګوشه جدا ګینا ستۀ جمع



دا دور دے مدام وي په قسمت د حکمران
شاهي چه د اول آخیره وي د ټول اولاد
ګلشن ګلشن دے سوات چه راغي وي پرے طوطیان
طوطیان او میلمانه په کښې اوسیږي خاد و نباد
واصف چه د لاور غمګین پرے بخیل لسان
دا څوک دے د سوات اوي په والي صاحب آباد
ګلونه دوس میاشته په باغ کښې معطر دي
زاغان تر په ارمان کښې په سود ګینا ستۀ جمع

---

## طرح ۳

هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---

خوږه سائلانو اراده چه د کوم کار کړے
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ سائلانو اراده چه د دولت وکړه
نور هغه ماړه شو پکښې یو پاتې محروم نه شه
واړه فقیرانو افسانه دِ د شهرت وکړه
پاتې یو سائل په سوات خوار چا ته په نوم نه شه
دا د تقسیم برخې په جمعه کښې حرکت وکړه
هر سائل سخی شه نام هرګز پاتې د شوم نه شه
ځکه په یورپ ایشیا د سوات نامے اظهار کړے
چترے پسِ د بادشاهی لمن نیا سره ده
دا د شام ثانی په سوات کښې بل چه دویم شام جوړ شه
ځکه دیر عالم پکښې د هر ځائ تماشے کوی
دا د سیدو غوث په ځي سرائے د اسلام جوړ شه
سوات ځکه دنیا په هر وطن کښې پلوشے کوی
هر رنګ طالبان پکښې د هر علم انجام جوړ شه
هر رنګ ملنګان پکښې په هر رنګه نشے کوی

PUKHTO.NET



هر رنګه غنچے در پکښې هر رنګه بهار کړے
هر رنګه باغچه پکښې د هر ثمر بے قیاسه ده
هر رنګه هنر پکښې د چین او د ختن شته دے
هر رنګ نقاشیان پکښې قابل په امتحان شته دے
هر رنګه فیشن پکښې تیار د هر وطن شته دے
هر رنګ فیشن ساز یعنے تهیلو به هر مکان شته دے
دا د سوات دُشاله د هر بنده شه گفتن شته دے
داسے د هر قسمه نن په سوات کښې قابلان شته دے
دا ذمه واری د سوات صاحب دار و مدار کړے
ځکه د بل به د سوات تیره خود د الماس ده
خود به ترقی دغه د سوات نام عجیب کوی
مل چه یې به نیکه خیل تاجور د هره با به دے
تل د سوات سلطان رائے دوستی د خوار غریب کوی
ده د عدالت خنجر و یستلے د نفا به دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم یې پرورش کړی هم یې غور د طبیب کړی
هم دے نیکوکار او نیک کردار د هر حساب دے
داسے نیکه برخه چه د قوم سره تاجدار کړے
برخه جهانګیری یې رسیدې د والناسه ده
نامه یې ج او ه الف ن ز ی ب بهتره ده
فکر ورته او کړه چه عقل ورته خام نه کړے
جیم ه الف یو ځای او د نون بیله خانه غوره ده
ز یوازے کور دے ، ی ب یو ځای بد دے فام نه کړے
دا جهان خائسته برخه یې نام کښې مقرره ده
نام که د حضور کړے حرفونه بے دوام نه کړے
دا د صفت باغ کښې نوکری چه کوم غمخوار کړے
خوښه باغبانی دے دا ورته چپوراسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---



## طرح ۴۲

## دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

---

تعلیم د عدالت عاقله ته او کړه په ستوا کښې
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی
تعلیم که د انصاف کوے اول پرے امتحان کړه
داخل چه شی اول په ستوا کښې نوم یې لنډاکے دے
محصول د ستوا حل د بنسه آګاه ته خپل ځان کړه
تپوس د میلمنو د محصول دوی ته کارسپکے دے
په ورځ بنځه حکمه پرے د عدل شاهجهان کړه
اخلاق د بد فعلی په خوله کښې خوند تریخ شمکے دے
اخته که ځان حد کښې مسافر شه په نیجات کښې
برباد به ږوند حیا وی په حیا که دیقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



درون چه میلمانه شی په مزه د سوات بهار ته
مالیان د حفاظت د پاره وی ورته موجود
پولیس حفاظتی دی تقسیم شوی هر دیار ته
چاقی د سترګی مشی میلمنو له ورکړی سود
نوکر کوی منجه د خدمتونو خپل تاجدار ته
صاحب د نوکرانو نه جوړی د حیا بود

خوشحاله میلمانه شی د هر قسمه په غم قات کښی
کار ونه ئے بے ریا دی په ریا که دی یقین شی

روان چه میلمانه شی په مهم کښی د سلام
مطلب ئے په زړه داوی چه یو اوکړے ملاقات
منشیان کړی د صاحب ورته د هر کلی کلام
اے ځوانه نوم دی اووایه چه تیر نه شی اوقات
ولاړه وی پوتل منشیان دے میلمنو ته لاس پنام
ترڅو چه میلمه نه کړی داخل نوم هغه ته ذبات



منشیان قول شریفان د حکمران دی په خپل ذات کښی
په جی قربان لګیا دی په لګیا که دی یقین شی

نوم لیک چه مزاکان کړی زر عادل سلطان له ئے ورکړی
صاحب د باچی ګارډ نوکر ته زر اوکړی آواز
فلانے میلمه تشریف دی زر دننه مقرر کړی
میلمه په ملاقات لګه د ګل کړی تن خنیر اواز
حضور د هر کلی قول د خولے ورته هم کړی
مرشد غوندی راز دار شی لکه پیر چه کړی خوک راز

احوال ورته ښکاره کړه دلاور په دے ابیات کښی
ښه واوره داوینا په دے وینا که دی یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی آ رښتیا که دی یقین شی

---

## دلاور غمګین ډاګی سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ناظرینو په خدمت کښې

خاص عوامو ته او بیا خاصکر تعلیم یافته او ادبي طبقې ته دا ښه معلومه ده چه څومره چه ریاست کښې تر دې حینه پورې دا سې یو ادبي شاهکار او دَ ترقۍ او دَ عروج په حقله دا سې یو مشاعره نه وه شوې دا اوله مرحله ده چه هر کله حضور غازئ ملت والا همت فرمانروائ سوات دام اقباله دَ ترقۍ په بام باندې کما ینبغي دَ سوات ریاست یو زلیده وړنکې ښه اوګرزوله، نو دَ ادیبانو، شاعرانو



په زړه کښې دَ خپل محبوب حکمران دَ محبت جذبه را غله، او دَ دې خپل نیک محسن دَ تحسین نه چپ نه شو پاتې کیدې نو لهٰذا څومره دَ ریاست ښاغلي محترم جناب **سیف الملوک صاحب صدیقي** (تحصیلدار دفترِ حضور دام اقباله) دَ ریاستِ سوات او غیره ادیبانو صاحبانو ته دَ مشاعرې پیغام ورکړه نو ښاغلو ښاغلو شاعرانو خپل خپل کلام دَ پاره دَ شایع کولو صدیقي صاحب ته را اولیګه، اګرچه دَ بعضو شاعرانو شعرونه دَ قافیو او دَ ردیف په لحاظ او دَ بحر په توازن سره سمه نه خوري لیکن بیا هم صدیقي صاحب دَ هغوئ دَ جذباتو قدر کوی او په خدمت دَ ناظرینو کښې پیش کوي

ــــــــــــــــــــ تاسو دور

فضل الرحمٰن فیضان عفی عنه محرر جناب مشیر ملک صاحب سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ عقیدت ګلونه

راشه لږ اوګوره دا دَ عقیدت ګلونه
لکه بورا بویه وه دا دَ صداقت ګلونه

ننني ورځ دَ تاجپوشۍ چه دَ والی صاحب ده
شو به پیشکش کښي ورته دا دَ حقیقت ګلونه

ټول ادیبانو شاعرانو په اخلاص او خلوص
حضور ته پیش کړه په دې ورځ دَ محبت ګلونه

هر یو شاعر اظهار دَ ډیر خوشحالۍ کړې دے
غازي ملت ته ئې ډالۍ کړه دَ عبرت ګلونه

وائي حبیب چه مونږ به نه یو دا یادګار به وي تل
تل به باقي وي دا ځمونږه دَ خدمت ګلونه

بنا غلے جناب حبیب الرحمن صاحب حبیب کالوج

---

بکتابت فضل الرحمن فیضان سوات عفی عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلوم ورته خندېږی او ظالم کوی فریاد
د زړهٔ په وینو تــکی دا زمــا قـلم لیکی

سیف الملوك صدیقی

# زهٔ انتظار کؤمه ستا د سترګو

زهٔ انتظار کؤمه ستا د سترګو

سیف الملوك صدیقی



زهٔ انتظار کؤمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ئهٔ زما د سترګو

چې په ګلونو د دنیا کرم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو یمه یواځې ئهٔ یم
اوښکې بهیږی د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګوکښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنیا لټؤم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صدیقیؔ خوښ دے په خلوت د دنیا
چرته به پټ شی د دنیا د سترګو

جان کتاب کور
JAN0345K951961KS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**